مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۶/۰۵/۲۷

# څه شم؟ ته ځواب!

شعر ولیکه
ځکه نزار ټول عمر بلقیس ته ولیکه
مینه وکړه
ځکه جبران مئین و
تر دې چې د هغه پیغمبر هم مئین و
ادب وپنځوه
ځکه شیرکو بیکس ادیب و
او یو لیونی عشق وکړه
ځکه محمود درویش و
عاشق، لیونی او ادیب
وطن ته ساندې ولیکه
ځکه غسان کنفاني لیکلي
او بیا دې هنر أمر کړه
لکه فروغ فرخزاد چې کړ
که دا نه وي معیري شه
چې شعر یې د محبوبا دوهم مخ کړ
یا شهریار شه
چې زړښت هم زوړ نه کړ
که نه وي د خاورې شهیده شه
لکه شاري بلوچ چې شوه
تلپاتې او ژوندی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ